UNITED NATIONS
AFGHANISTAN

## په افغانستان کې د ملګرو ملتونو تازه بیانیه

**کابل د ۲۰۲۳ کال د اپریل ۱۱مه** - په افغانستان کې ملګري ملتونه یوځل بیا د طالبانو د واکمنو چارواکو هغه پریکړه په کلکه غندي چې په افغانستان کې له ملګرو ملتونو سره د افغان ښځو پر کار کولو بندیز لګوي.

دا د افغانستان د عامه او ورځني ژوند په ډیرو برخو کې د ښځو او نجونو د ونډې د شدید محدودیت په موخه د واکمنو طالب چارواکو لخوا دعملي شویو تبعیضي اقداماتو په لړ کې وروستی هغه دی.

دا بندیز د ملګرو ملتونو د منشور په ګډون د نړیوالو قوانینو له مخې غیرقانوني دی، نو په دې توګه یې ملګري ملتونه نشي منلی.

د دغه بندیز له لارې، واکمن طالب چارواکي هڅه کوي چې ملګري ملتونه دې ته اړ باسي چې د افغانانو د ملاتړ لپاره د پاتې کېدو او خدماتو د وړاندې کولو، او د هغو نورمونو او اصولو تر منځ چې موږ یې د ساتنې دنده لرو یو ډارونکي انتخاب وکړي.

دا باید روښانه وي چې پر افغان ولس د دغه ناورین هر ډول منفي پایلې به د واکمنو چارواکو پر غاړه وي.

په ورته وخت کې، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مشرې آغلې روزا اوتنبایوا لخوا د ۲۰۲۳ کال د مې تر ۵ پورې د عملیاتي چارو د بیاکتنې لړۍ پیل شوې ده.

د دغې مودې په لړ کې به، په افغانستان کې ملګري ملتونه اړیني مشورې ترسره، اړین عملیاتي تنظیم به رامنځته، او د ټولو ممکنه پایلو لپاره به چټک بیړني پلانونو رامنځته کړي.

ملګري ملتونه به د امنیت شورا لخوا له ټاکل شوي ماموریت سره سم له واکمنو طالب چارواکو سره تر ممکني کچې، اصولي او رغنده ښکیلتیا ته دوام ورکړي.

ټولو ملي کارکوونکو – ښځو او نارینه وو – ته لارښوونه شوې چې د ملګرو ملتونو په دفترونو کې دندو ته ولاړ نشي، خو دیو لږمهمو کارونو لپاره محدوده او محاسبه شوې استثنا موجوده ده.

ملګري ملتونه به هڅه وکړي چې له بشردوستانه اصولو او معیارونو سره سم ژوند ژغورونکي او دوخت اړین بشري فعالیتونو ته، د ۲۰۲۲ کال په جنورۍ کې د بین السازماني ادارو د دایمي کمیټې د طرحې له مخې دوام ورکړي او په لړکې به یې موږ د بندیز د کچې، پیرامیترونو او پایلو ارزونه وکړو، او هغه فعالیتونه به ودروو چې ورته خنډ وي.

موضوع به په دوامداره توګه تر څیرنې لاندې وي.

د ۲۰۲۱ کال د اګست له میاشتې راهیسې، ملګري ملتونه د افغانانو د بې ساري کړاو د کمولو لپاره د پاتې کیدو او مرستې رسولو هڅې کوي.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو کار د خلکو د ژوند ژغورلو لپاره د بشردوستانه اړتیاو او هم د انسانیت، بې پرېتوب او خپلواکۍ د بشردوستانه اصولو پر اساس پرمخ وړل کیږي.

دا بندیز، د ۲۰۲۲ کال په ډسمبر کې دهغو نه منونکو محدودیتونو تمدید دی، چې د مرستې رسولو په لومړۍ کرښه کې پر بوختو غیر دولتي همکارو موسسو اعمال شو، چې په قصدي ډول له ښځو سره تبعیض او د ژوند ژغورنکو او دوامدار مرستو او خدماتو ته د افغانستان د خلکو دلاسرسي وړتیا ننګوي.

له همدې امله دا له بشري حقونو او بشردوستانه اصولو څخه سرغړونه ده.

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو ښکیلتیا، په پراخه کچه او په ښه نیت سره ترسره شوې، د ملګرو ملتونو د بنسټیز لید، د ټولو خلکو لپاره د سولې، ثبات او بشري حقونو په برخه کې او د ملګرو ملتونو د منشور سره سم ولاړه ده.

***